بسم الله الرحمن الرحيم

# دمسلمانانو دوروسته پاتي والي يوازنی علاج

مؤلف

شيخ الحديث مولانا محمد زکريا نور الله مرقده

ژباړونکی :

مولوي عبدالهادي (حماد)

Ketabton.com

(د فضايل اعمال د کتاب وروستۍ برخه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حقيقت څرنګدتيا

نحمده و نصلي علي رسوله الکريم.

د څه وخت راپه دې خوا زما د استاذ، مشر، زبدة الفضلاء او مقتدا عالم حضرت مولانا محمد الياس رحمة الله عليه په برکت د تبليغ کار شروع دئ، چې د امت د عالمانو، بزرګانو برکت او پوره پاملرنه ورسره وه پوهان خلګ ښه په خبر دي ما ګنهګار بنده ته د دې پاکو هستيو امر وسو، چې د تبليغ په اړه يو څه وليکم تر څو په تبليغ کولو کي اساني رامنځته سي او ګټور تمام سي.

د دغه مخورو استادانو د امر په منلو يو څو کرښې ليکم، چې د دې لويو علماوو د علومو د درياب څخه يو څاڅکی دئ او د محمدي دين د باغچې څخه يو څو غونچې دي، چې په ډېره چابکۍ سره يو ځای سوي دي که چيري څه غلطۍ يا کمی پکښې ښکاره سي نو زما د قلم غلطي او د بې علمۍ نتيجه ده. د مهربانۍ له مخي يې اصلاح کړئ د احسان سبب به سي. الله جل جلاله دي پخپل فضل او کرم سره زما پر ګناهونو پرده واچوي. ما او تاسو ته دي الله جل جلاله د دې پاکو هستيو د نېکو عملونو کړنلاره را نصيب کړي. الله جل جلاله دي مو د خپلي رضا، د خپل دين د خپرولو او د خپل رښتيني رسول صلی الله عليه وسلم د اطاعت په دولت و نازوي. آمين

د بزرګانو د پښو خاوري

محمد احتشام الحسن، مدرسة کاشف العلوم

بستي حضرت نظام الدين اولياء دهلي – ۱۸ / ربيع الثاني / ۱۳۵۸ هـ ق

# د پيل خبري

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام علي سيد الاولين والاخرين خاتم الانبيآء والمرسلين محمد وآله واصحابه الطيبين الطاهرين .

د نن څخه د يارلس سوه کاله وړاندي کله چې دنيا د کفر، جهالت، ناپوهۍ او ګمراهۍ په تيارو کي ډوبه وه د مکې مکرمي پر کاڼو او غرونو باندي د رشد او لارښووني سپوږمۍ راښکاره سوه. تر مشرقه، مغربه، جنوبه، شماله او د دنيا تر هر کونجه پوري يې خپله رڼا ورسوله تر درويشتو کالو په کمه موده کي يې انسان و هغه لوړي مرتبې ته ورساوه چې په تاريخ کي يې د مثال ورکولو څخه انسان عاجزه دئ او د رشد، صلاح، هدايت او کاميابۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مثال يې و مسلمانانو ته په لاس ورکړ، چي په رڼا کي يې تل د ترقۍ او ودي لاري پيدا کېږي او تر سوونو کالو پوري يې پر دنيا باندي داسي حکومت وکړ، چي په دنيا کي هر چا ډغري ورسره وهلي دي ذره ذره سوي دي.

دا يو حقيقت دئ انکار نه سي ځني کېدلاي خو دومره بايد ووايم چي دغه پخوانۍ قصې نه څه ګټه لري او نه څه تسلي په راتلای سي خو د اوسنۍ زمانې حالات او کوم څه چي تېرېږي دا موږ خپله د تېرو مشرانو او بزرګانو پر ژوند باندي يو بد داغ لګولی دئ. د مسلمانانو ژوند چي په تېرو ديارلسو سوو کالو کي په تاريخ کي وکتل سي نو داسي معلومېږي چي موږ د عزت، دبدبې، شان او شوکت مالکان او اجاره داران يو او که د هغه تاريخ څخه نظر واړول سي نو موجوده حالات ښيي، چي موږ په ډېر ذلت، خوارۍ، افلاس او کمزورۍ کي نغښتي يو. نه زور او دولت سته، نه زر او دولت سته، نه شان او شوکت سته، نه پخپلو منځو کي مينه او محبت سته، نه ښه اخلاق او نه ښه عادتونه، هره بدي په موږ کي موجوده ده او هره نېکي زموږ څخه په ميلونو ليري ده. دښمنان زموږ په دې بد حال خوشحاله دي او هر ځای زموږ کمزورۍ بيانوي پر موږ باندي خاندي، پر موږ ټوکي کوي په دې بسنه نه کوي بلکي زموږ د زړه ټوټې پر نوي ماډرن کلتور مين ځوانان په اسلام او اصولو پسخند وهي. پر هره خبره يې اعتراض کوي او دا پاک دين لغوه او بېکاره بولي. عقل حيران دئ چي کوم قوم چي د دنيا تنده مړه کړې وه نن ولي هغه تږي دئ؟ کوم قوم چي دنيا ته تمدن، تهذيب او ښکلا وربخښلې وه نن ولي هغه غير مهذب او د تمدن څخه ليري دئ؟ د قوم رهنمايانو او مشرانو ډېر پخوا لا زموږ د دې بد حالت پېش بيني کړي وه او په مختلفو طريقو يې زموږ د اصلاح کوښښ کړی و.

## مرض بڑھتا گیا جوں جوں دوا کی

ژباړه: ناروغي زياتېږي هر څومره چي دوا خوري. نن تر بد لا بد حالت دئ او راتلونکی به د تېر په پرتله زيات د خطرونو ډک وي نو زموږ پټه خوله کښېنستل دومره لوی جرم دئ، چي بدله يې بيا په هيڅ شی نه سي پوره کېدلای. خو مخکي تر دې چي موږ عملي قدم پورته کړو په کار ده چي لومړی موږ پر هغه شيانو وږغېږو چي له وجي يې موږ د داسي خوارۍ او ذلت سره مخ سوي يو او په دې عذاب کي ښکيل يو. زموږ د دې وروسته پاته والي زيات لاملونه سته، چي د مخ نيولو لپاره يې يو شمېر تدابير نيول سوي دي هر تدبير چي په کار اچول سوی دئ ناکامه او ناموافقه سوی دئ په همدې وجه زموږ مشران او رهبران په اميد او وېره کي پراته ښکاري. اصلي خبره دا ده چي تر اوسه پوري زموږ مرض معلوم سوی نه دئ، کوم څه چي بيان سوي دي هغه زموږ مرض نه دئ بلکي زموږ د مرض نښانې دي تر کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخته پوري چي اصل مرض ته توجه ونه سي او پيدا نه سي نو د نبنانو اصلاح شونې نه ده او تر کومه وخته پوري چي موږ د اصلي مرض اصلاح ونه کړو او معلوم يې نه کړو نو موږ ته د اصلاح لپاره خوله خلاصول سخته غلطي ده. زموږ دغه دعوه چي شريعت يو مکمل الهي قانون دئ، چي زموږ د دنيا او آخرت د کاميابۍ ضامن دئ. بيا نو هيڅ اړتيا نسته چي موږ د خپل مرض معلومول پيل کړو او علاج يې شروع کړو بلکي موږ ته په کار ده چي په قرآن کي خپل اصلي مرض پيدا کړو او هم د دې مرکز څخه د رشد او هدايت علاج پيدا کړو او څنګه چي قرآنکريم زموږ لپاره تر قيامته پوري قانون دئ نو بيا موږ ته هيڅ دليل نسته چي موږ په دې قرآن عمل نيمګړی کړو. د مځکو او اسمانو لوی پاچا پخپله وعده کړې ده، چي د مځکي پاچهي او خلافت د مومنانو دی:

| | |
|---|---|
| وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي ٱلْأَرْضِ(۱) | ژباړه: الله ﷻ وعده کړې ده، چي په تاسو کي کوم څوک چي مؤمنان دي او نېک عملونه کوي زه به د مځکي خلافت ورکوم چي مومنان تل پر کافرانو باندي غالب وي او د کافرانو به هيڅوک مرسته کوونکي نه وي. |

او دايې هم تسلي ورکړې ده چي تل به مسلمانان پر کافرانو باندي برلاسي وي او دکافرانو به هيڅوک مرسته کونکي نه وي:

| | |
|---|---|
| وَلَوْ قَـٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوَلَّوُاْ ٱلْأَدْبَـٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا (۲۲) (۲) | ژباړه : که چيري دغه کافران ستاسو سره جنګېدلي وای نو خامخا به پر شا تللي وای بيا د دوی هيڅ دوست او مرسته کوونکی نه وي. |

د مومنانو تل الله ﷻ مرسته کوي او دوی به تل سر لوړي وي.

| | |
|---|---|
| وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ (۴۷) (۳) | ژباړه: د مومنانو مرسته پر موږ باندي حق دئ. |
| وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحْزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ (۱۳۹) (۴) | ژباړه: تاسو همت د لاسه مه ورکوئ تاسو غم مه کوئ تاسو به غالب ياست که پوره مومنان واست. |

---

(۱) سورة النور الاية (۵۵).
(۲) سورة الفتح الاية (۲۲).
(۳) سورة الروم الاية (۴۷).
(۴) سورة ال عمران الاية (۱۳۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| وَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٨﴾ | ژباړه: الله ﷻ لره عزت او الله ﷻ رسول او مؤمنانو لره (عزت دئ) مګر منافقان نه پوهېږي. |

د پورتنيو آياتو څخه تر غور وروسته معلومېږي چي د مؤمنانو سر لوړي، شان او شوکت، کاميابي او ترقي د دوی د ايمان د صفت سره تړلې ده. که چيري د ده اړيکي د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ سره ټينګي وي.

(کوم چي د ايمان مقصود دئ) نو کاميابي به د ده په برخه وي او که خدای مه کړه د ده رابطه د الله ﷻ او د رسول الله ﷻ سره کمزورې سي نو خواري او ذلت به د ده په برخه وي لکه چي په سترګو ليدل کېږي.

| | |
|---|---|
| وَٱلۡعَصۡرِ ﴿١﴾ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ﴿٢﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ﴿٣﴾ | ژباړه: قسم په زمانه چي انسان په تاوان کي دئ، مګر نه هغه څوک چي ايمان يې راوړی وي، نېک عملونه يې کړي وي، توصيه په حق او صبر سره کوي (دغه کسان د تاوان څخه خلاص دي). |

زموږ پخواني مشران په نهايي عزت کي وه او موږ په نهايي ذلت او خواري کي يو، د دې څخه معلومېږي چي هغوی د کامل ايمان څخه برخمن وه او موږ د دې صفت څخه بې برخي يو لکه څرنګه چي د الله ﷻ رښتيني پيغمبر خبر ورکړی دئ:

| | |
|---|---|
| سيأتي علي الناس زمان لايبقی من الاسلام الااسمه ولامن القران الارسمه[٥]. | ژباړه : ژر دئ چي داسي وخت به راسي چي د اسلام به يوازي نوم پاته وي او د قرآن به يوازي نقشونه پاته وي. |

اوس خبره داده که چيري په واقعي ډول موږ د حقيقي اسلام څخه بې برخي يو کوم چي د الله ﷻ او د ده د رسول ﷺ مقصود دئ او په دې دين پوري زموږ د دنيا او آخرت کاميابي تړلې هم ده نو بله کومه ذريعه ده چي په مټ يې موږ بيرته د دې نعمت څخه برخمن سو؟ او هغه کوم اسباب دي چي په وجه يې زموږ څخه د اسلام روح وتلی دئ او يوازي خالي بدن راپاته دئ. کله چي قرآن تلاوت سي او د محمدي امت د فضيلت وجه ولټول سي نو معلومېږي چي دې امت ته يو لوی او اعلی کار سپارل سوی دئ، چي د هغه په وجه د خير الامم (يعني غوره د امتو) خطاب ورته سوی دئ، د دنيا د پيدا کېدو څخه لوی مقصد د الله ﷻ وحده لا شريک له د ذات او صفاتو پېژندنه ده او دا تر هغه وخته پوري ناممکنه ده

---

[٥] مشکوة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي انسان د بديو او چټلتياوو څخه نه وی پاک سوی او په نېکو او سپېڅلو صفتونو ښايسته سوی نه وي د دغي خبري لپاره په زرونو انبياء او رسولان راغلي دي او په آخر کي سيد المرسلين حضرت محمد ﷺ راولېږل سو او بيا د اليوم اکملت لکم دينکم واتممت عليکم نعمتي زيري ورکړل سو. اوس نو څرنګه چي دين پوره سو مکمل مقصد لاسته راغلی او پوره دين د عمل لپاره ورکړل سو نو په همدې وجه د نبوت سلسله ختمه سوه، کوم کار چي به انبياوو او رسولانو کاوه په پوره ډول محمدي امت ته وسپارل سو.

كُنتُم خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ[٦]

ژباړه: اې محمدي امته! تاسو غوره د امتونو ياست د خلګو د ګټي لپاره لېږل سوي ياست تاسو په نېکۍ سره امر کوئ او له بدو څخه خلګ منع کوئ او په الله ﷻ باندي ايمان لرئ.

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٤﴾

ژباړه :په تاسو کي يوه داسي ډله پکاره ده، چي خلګ د خير و لوري ته راوبولي او د بدو څخه يې منع کوي او يوازي دغه خلګ کامياب دي. په لومړي آيات کي د خير الامم وجه دا وښودل سوه، چي تاسو په نېکۍ سره امر کوي او د بدو څخه منع کوئ

په دوهم آيات کي په خصوصي ډول وښودل سوه، چي يوازي هغه کسان کامياب دي چي دغه کار کوي پر دې باندي بس نه ده بلکي بل ځای په ښکاره دغه کار نه کول د لعنت او ملامتيا سبب ښودل سوي دي.

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾

ژباړه : په بني اسرائيلو کي چي کوم خلګ کافران وو پر هغوی باندي لعنت کړل سوی دئ پر ژبه د عيسی عليه السلام او داود عليه السلام دا لعنت په دې وجه وسو، چي دوی د هغوی د حکم څخه مخالفت وکړ او د حده ووتل کوم بد کار چي به دوی کاوه د هغه څخه يې نه منع کول بېشکه د دوی دغه کار بد و.

د دغه وروستي آيات وضاحت په لاندي حديثونو کي کېږي.

---

[٦] سورة ال عمران الاية (١١٠).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ : وفي السنن والمسند من حديث عبدالله بن مسعود ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ان من كان قبلكم كان اذ عمل العامل فيهم بالخطيئة جآئه الناهي تعزيرا فقال يا هذا اتق الله فاذا كان من الغد جالسه واكله وشاربه كانه لم يره على خطيئة بالامس فلما راي عز وجل ذالک منهم ضرب قلوب بعضهم على بعض ثم لعنهم على لسان نبيهم داؤد و عيسى بن مريم ذالک بما عصوا وكانو يعتدون والذي نفس محمد بيده لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنكر ولَتأخذن على يدالسفيه ولتأطرن على الحق اطرا اوليضر بن الله قلوب بعضكم على بعض ثم يلعنكم كما لعنهم.

ژباړه: د عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله وفرمایل: ستاسو څخه مخکي امتونه داسي وه چي چا به ګناه وکړه نو منع کوونکی به هغه وېراوه او ورته ویل به یې چي د الله ﷻ څخه وېرېږه دا کار مه کوه کله چي به سبا سو نو د هغه سره به یې ناسته ولاړه کول، خوراک او څښاک به یې ورسره کاوه په دې ډول چي ګویا ده ښخي هغه سړی پر ګناه باندي نه دئ لیدلی. کله چي الله ﷻ د دوی دا کارونه ولیدل الله ﷻ د دوی زړونه یو د بل سره ګډ کړل او د داود ﷺ او عیسی ﷺ په ژبه پر دوی باندي لعنت وویل سو دا په دې وجه چي دوی د الله ﷻ نافرماني کوله او تر حد یې تېری کاوه. زما دي قسم په هغه ذات وي چي د محمد ﷺ روح یې په قدرت کي دئ په ښو کارونو امر کوئ او د بد کارو څخه منع کوئ او بې علمه تر لاس نیسئ په حقه خبره یې مجبور کړئ که نه نو الله ﷻ به ستاسو زړونه سره ګډ کړي او لعنت به درباندي ووایي لکه پر تېرو امتونو چي لعنت وویل سو.

۲ : و في سنن ابي داود و ابن ماجة عن جابر بن عبدالله قال سمعت رسول الله ﷺ يقول مامن رجل يكون في قوم يعمل فيهم بالمعاصي يقدرون على ان يغيروا عليه ولا يغيرون الا اصابهم الله بعقاب قبل ان يموتوا.

ژباړه: د جابر ﷺ څخه روایت دئ، چي رسول ﷺ و فرمایل: په یو قوم کي چي یو سړی ګناوي کوي او هغه قوم یې د توان سره منع نه کړي نو تر مرګ مخکي به پر دوی باندي عذاب راسي. یعني په دنیا کي به په ډول – ډول عذابونو اخته سي.

۳ – و روي الاصبهاني عن انس ﷺ ان رسول اللهﷺ قال لا تزال لا اله الا الله تنفع من قالها وترد عنهم العذاب والنقمة مالم يستخفوا بحقها قالوا يا رسول الله

ترجمه: حضرت انس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روایت کړی دئ، چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کلمه طیبه ویونکي ته ګټه رسوي او د عذاب او بلا څخه یې ساتي تر څو چي د حقونو یې بې پروایي نه وي کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وما الاستخفاف بحقها قال یظهر العمل بمعاصي الله فلا ینکر ولا یغیروا (٧).

اصحابو کرامو پوښتنه وکړه چي د کلمې طیبې د حقونو بې پروایي څه شي ده؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: چي د الله ﷻ نافرماني په ښکاره ډول کېږي بیا د دغه کار څخه انکار نه کېږي او نه یې د منع کولو لپاره کوښښ کېږي.

٤ : عن عائشة رضي الله عنها قالت دخل علی النبي عليه السلام فعرفت في وجهه ان قد حضره شيئ فتوضاء وما کلم احدا فلصقت بالحجرة استمع ما یقول فقعد علی المنبر فحمدالله واثنی علیه وقال یا ایهاالناس ان الله تعالی یقول لکم مروا بالمعروف وانهوا عن المنکر قبل ان تدعوا فلا اجیب لکم وتسئلوني فلااعطیکم وتستنصروني فلا انصرکم فمازاد علیهن حتی نزل.

ژباړه: حضرت عائشة رضي الله عنها فرمایي، چي: رسول الله ﷺ زما کره تشریف راوړی مایې په مخ کي یو خاص اثر ولیدی یوه سوم چي یوه خبره خامخا سته د هیچا سره یې خبري نه وکړې اودس یې تازه کړ، مسجد ته ولاړی زه د مسجد دیوال ته نژدې ودرېدم چي رسول الله ﷺ څه فرمایي هغه واورم. رسول الله ﷺ و منبر ته وختی د الله ﷻ حمد او ثنا یې وویله بیا یې و فرمایل: اې خلګو! الله ﷻ تاسو ته امر کوي چي په نېکیو سره امر وکړئ او د بدو څخه خلګ منع کړئ داسي نه چي داسي وخت راسي تاسو به دعا غواړئ زه به یې قبلوم، تاسو به زما څخه غوښتنه کوئ زه به یې نه درکوم زما څخه به کومک غواړئ زه به ستاسو مرسته نه کوم. نبي عليه السلام دغه الفاظ وویل او د منبر څخه راکښته سو.

٥ : عن ابي هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذا عظمت امتي الدنیا نزعت منهاهیبة الاسلام واذا ترکت الامر بالمعروف والنهي عن المنکر حرمت برکة الوحي واذاتسابت امتي سقطت من عین الله (٨).

ژباړه: ابو هریرة رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي زما امت ته دنیا د عزت او درنښت وړ سوه نو د دوی د زړونو څخه به د اسلام عزت او هیبت ووزي او که یې امر بالمعروف او نهي عن المنکر پرېښودی د وحیو د برکت څخه به محرومه سي او که یې پخپلو منځو کي یو دبله ښکنځل کول پیل کړه دالله ﷻ د (رحمت) د نظر څخه به وغورځول سي.

---

(٧) ترغیب.

(٨) کذا في الدر عن الحکیم الترمذي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتنيو حديثونو کي د فکر کولو څخه وروسته معلومېږي چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر پرېښودل د الله ﷻ د لعنت او غضب سبب جوړېږي.

کله چي محمدي امت دا کار پرېږدي نو د سختو تکليفونو، غمونو او خواريو سره به مخ سي او د هر ډول غيبي مرستي څخه به بې برخي سي دا ټول هغه وخت رامنځته کېږي چي محمدي امت خپله فريضه پرېږدي او د خپلي ذمه واری څخه غافله سي. همدا وجه ده چي نبي ﷺ امر بالمعروف او نهي عن المنکر د ايمان خاصيت او لازمي برخه يې ګرځولې ده او پرېښودل يې د ايمان کمزوري او ضعف ښودلی دئ. د ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دئ:

| | |
|---|---|
| من رَاي منکم منکرا فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فقلبه وذالک اضعف الايمان [٩]. | ژباړه: که په تاسو کي څوک بدي ويني نو په لاس دي يې منع کړي که يې په توان نه وه نو په خوله دي يې منع کړي او که يې دا هم په توان نه وه په زړه دي يې منع کړي (يعني په زړه کي دي نفرت ځني وکړي). |

دا د ايمان کمزورې درجه ده. نو څرنګه چي په زړه کي بد ځني ورل د ايمان کمزورې درجه ده نو اوله يې تر ټولو کامله او لوړه درجه ده. خو تر دې روښانه د ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ:

| | |
|---|---|
| ما من نبي بعثه الله قبلي الا کان له في امته حواريون واصحاب يَأخذون بسنته ويقتدون بامره ثم انها تخلف من بعدهم خلوف يقولون مالا يفعلون ويفعلون مالايامرون فمن جاهدهم بيده فهومؤمن ومن جاهدهم بلسانه فهو مؤمن ومن جاهدهم بقلبه فهو مؤمن وليس وراء ذالک من الايمان حبة خردل [١٠]. | ژباړه: هر نبي چي مخکي تېر سوی دی خامخا به يې يوه ډله د ترييه سوو ملګرو څخه درلوده چي دوی به د نبي سنت برپايه کول او پوره تابعداري به يې کول الهي دين چي په کومه بڼه او ډول پيغمبر پرې ايښي و په هغه ډول به يې محفوظ ساتی، يوه ذره تغيربه يې نه پکښي راوستی خو تر دې وروسته چي د شر او فساد وخت راسي داسي خلګ به پيدا سي چي هغه څه به وايي چي خپله عمل نه په کوي. کارونه به يي داسي وي چي شريعت اجازه نه وي ورکړې نو د داسي خلګو پر خلاف د سنت او حق قائمولو په موخه د لاس څخه کار واخلي مومن دئ او که چا د لاس څخه کار وانه خستی د ژبي څخه کار واخلي مومن دئ او که يې دا هم نه وکړه بلکي نيت او عقيده يې د داسي خلګو پر خلاف راوستل مومن دئ، مګر دا د ايمان آخره درجه ده د ايمان حد پر دغه ځای خلاصېږي که چا دا هم نه وکړل نو په زړه کي يې د خرماخستکي د منځ د پردې په څېر ايمان نسته. |

---

[٩] مسلم.

[١٠] مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتني کار د اهميت په موخه امام غزالي رحمه الله داسي فرمايي: په دې کي هيڅ شک نسته چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر د ايمان داسي مضبوط رکن دئ چي د دين ټوله شيان ورسره تړلي دي د دغه کار د کولو لپاره الله جل جلاله ټوله انبيآء رالېږلي دي او که يې علم او عمل پرېښودل سي نو العياذ بالله د نبوت بې کاره کيدل به لازم سي. ديندراي چي انساني شرافت دئ کمزوري به سي. سستي به عامه سي د ګمراهۍ او ضلالت لاري به خلاصي سي، جهالت به په ټوله دنيا کي خپور سي، په ټولو کارونو کي به خرابوالی راسي. په خپلو منځو کي به بي اتفاقي او بدنيتي خپره سي، ابادي به وراني سي، مخلوق به تباه او برباد سي، د دې بربادۍ او تباهۍ درک به هغه وخت معلوم سي چي کله خلک د الله جل جلاله په وړاندي ودرول سي او پوښتنه ځني وسي.

افسوس سل ځلي افسوس کوم خطره چي وه هغه راغله کومو سترګو وېره وليده؟

كان امر الله قدرا مقدورا فانا لله وانا اليه راجعون.

د دغه شنې ستني نښانې له منځه تللي دي د حقيقت او د سمونو برکتونه له منځه تللي دي. د خلګو پر زړونو د سپکوالي او ذلالت مهرونه ولګيدل د الله جل جلاله سره د زړه اړيکي له منځه ولاړې د نفسي خواهشاتو تابعداري د ځناورو په څېر روانه ده. د ځمکي پر مخ داسي مؤمن پيدا کول ګران دي، لږ والي يې څه کوې بيخي نسته چي د حق د ښکاره کولو په موخه دي د چا ملامتيا وزغمي، که يو غښتلی مؤمن ليځي راونغاړي د تباهۍ د ليري کولو لپاره اراده وکړي، د سنت د ژوندي کولو لپاره ميدان راسي نو يقينا دغه کس په ټول مخلوق کي يو امتيازي حيثيت لري او د ښکاره هستۍ مالک دئ. امام غزالي رحمه الله چي په کومو الفاظو د دغه کار اهميت موږ ته بيان کړی دئ زموږ د بيدارېدو لپاره بسنه کوي.

لو مړۍ وجه دا ده چي موږ پورتنۍ فريضه يوازي په علماوو پوري خاص کړېده او حال دا چي په قرآن کريم کي د الله جل جلاله امر و ټولو ته دئ د محمدي امت هر وګړی پکښې شامل دئ ځکه د دې د سپيناوي لپاره د اصحابو کرامو او خيرالقرون ژوند ښکاره شاهد دئ.

د تبليغ، امر بالمعروف او نهي عن المنکر په علماوو پوري خاص کول او د دوی په ډاډ سره بې غمه کېدل زموږ لويه ناپوهي ده. د عالمانو مسئوليت دا دئ چي سيده او حقه لاره وښيي بيا نو عمل په کول او نور پر روانول دا د نورو کار دئ، دغه خبره د رسول صلی الله علیه وسلم په حديث کي بيان سوېده:

الا كلكم راع وكلكم مسئول عن رعيته فاالامير الذي على الناس راع عليهم وهومسئول عنهم والرجل راع على اهل بيته وهو مسئول عنهم والمراة راعية على بيت بعلها وولده

ژباړه: ښېشکه تاسو ټول ساتونکي ياست د هر چا څخه به د خپل رعيت پوښتنه کېږي نو پاچا د خلګو ساتونکی دئ د خلګو پوښتنه به ځني کېږي. سړی د خپلي کورنۍ ساتونکی دئ د خپل کور پوښتنه به ځني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهي مسئولة عنهم والعبد راع على مال سيده وهو مسئول عنه فكلم راع وكلكم مسئول عن رعيته[۱۱].

کېږي او ښځه د خپل خاوند د کور او اولادو ساتونکې ده په دغه باره کې به پوښتنه ځنې کېږي او تاسو ټوله ساتونکي یاست د هر چا څخه د خپل رعیت په اړه پوښتنه کېږي.

قال الدين النصيحة قلنا لمن؟ قال لله ولرسوله ولائمة المسلمين وعامتهم[۱۲].

ژباړه: رسول ﷺ وفرمایل: دین سراسر نصیحت دئ (اصحاب ﷺ وايي) موږ ورته وویل د چا لپاره؟ رسول ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ، رسول ﷺ، د مسلمانانو امیرانو او د ټولو مسلمانانو لپاره.

که فرض کړو چي دا کار یوازي د علماوو لپاره دئ نو اوس خو اړتیا ده وخت د دې غوښتنه کوي چي ټوله د دې کار لپاره ملا وتړي او وخت پکښې ولګوي.

دوهمه وجه دا ده چي موږ داسي فکر کوو چي خپله به ایمانونه ټینګ کړو د نورو ګمراهي موږ ته هیڅ تاوان نه رسوي لکه چي د دې آیات څخه معلومېږي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ[۱۳]

ژباړه: اې ایمان والاوو! کله چي تاسو پر لار روان یاست نو د نورو ګمراهي تاسو ته هیڅ تاوان نه رسوي[۱۴].

په حقیقت کي د پورتني آیات څخه مطلب دا نه دئ لکه په ښکاره چي معلومېږي ځکه دغه معنی د الهي حکمت او دیني غوښتني څخه بیخي خلاف ده ځکه اسلامي ملت ټول د یو بدن مثال لري که د بدن پر یوه غړي باندي درد سي نو ټوله بدن ورسره نارامه وي د دې څخه اصلي مطلب دا دئ چي دین چي هر څومره کمال ته ورسېږي بیا به هم ځیني خلک وي چي سیده او حق لاره به پرېږدي ګمراهي به غوره کوي په پورتني آیات کریمه کي الله ﷻ و مومنانو ته تسلی ورکوي چي که خپله پر صحیح لاره باندي ودرېږي نو د دوی د ګمراهۍ څخه و تاسو ته د تاوان وېره نسته.

همدا ډول اصل شریعت دا دئ چي سړی د دین ټوله احکام ومني او عمل په وکړي نو د دین د احکامو څخه خو یو دا هم دئ چي سړی به امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي. د دغه وینا تائید د ابو بکر ﷛ په لاندي حدیث سره کېږي:

---

(۱۱) بخاري و مسلم.

(۱۲) ( 12 ) مسلم

(۱۳) سورة المائدة الاية (۱۰۵).

(۱۴) بيان القران.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عن ابي بكر الصديق ﷺ قال ايهاالناس انكم تقرؤن هذه الاية يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ فاني سمعت رسول الله يقول ان الناس اذاراو المنكر فلم يغيروه اوشك ان يعمهم الله بعقابه.

ژباړه: ابوبکر ﷺ وفرمايل: اې خلګو! تاسو دا آيات وړاندي کوئ چي الله ﷻ فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ... (الاية) حال دا چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي، چي څوک يو ناروا کار ويني او منع يې نه کړي نو نژدې دئ چي الله ﷻ به يي په عمومي عذاب کي ګرفتار کي

څېړونکو علماوو د پورتني آيات همدا معنی مراد کړېده.امام نووي رحمه الله د مسلم شريف په شرحه کي ليکلي: د تحقيق کوونکو علماوو مذهب د پورتني آيات کريمه په اړه داسي دئ، چي کله تاسو يو نېک کار وکړئ، نو د نورو نه کول يا ګمراهي تاسو ته کوم تاوان نه سي رسولای لکه چي الله ﷻ فرمايي: ولاتزر وازرة وزراخرى.

نو کله چي داسي ده نو د کومو شيانو چي امر ورکړل سوی دئ هغه ټول امر بالمعروف او نهي عن المنکر دئ نو چا چي دا امر برپايه کړی يعني په ښو کارونو يې امر وکړ او د بدو کارو څخه يې منع وکړه نو ده خپله ذمه واري او وجيبه پوره کړه نور نو پر ده ملامتيا او الزام د هغوئ نه عمل کول او ګناه کول ده ته تاوان نه رسو ي (والله اعلم).

دريمه وجه دا ده چي ټول خلګ يعني عوام، خاص، عالم، جاهل او هر سړی نااميده سوي دي چي نور نو د دين ترقي نه سي راتلای دا يې يقين دئ، چي دا کار ګران دئ د چا په مخ کي چي د اصلاح نظام وړاندي سي نو دی په جواب کي ورته وايي چي اوس خو نه حکومت او نه سلطنت سته، نه د متو زور سته، نه مال او سامان سته، نه د جنګ وسايل سته، نه مرکزي حيثيت سته او نه اتفاق او اتحاد سته. ديندار خلګ خو وايي چي اوس څوارلسمه صدی ده د رسالت د رڼا کمه سوي ده اوس نو د اسلام زوال يو لازمي شی دئ. دا خبره صحيح ده چي څومره د نبوت د رڼا څخه ليري والی راځي د حقيقي اسلام شغلې به کمېږي خو د دې هيڅکله دا مطلب نه دئ، چي د دين د حفاظت او ساتني لپاره به کوښښ او محنت نه کېږي، ځکه که چيري داسي وي او زموږ مشرانو هم داسي فکر کړی وي نو تر موږه پوري به د اسلام د رارسېدو هيڅ لاره نه وای البته زمانه چي ناموافقه ده نو د ټولني کړو وړو ته دي وکتل سي څنګه چي ښايي په هغه ډول دي په زيات همت او استقلال سره کار اخيستل پيل سي. د حيرانتيا خبره دا ده چي د کوم دين بنسټ چي سراسر پر قرباني او عمل باندي ايښودل سوی و، نن د هغه دين منونکي سراسر د عمل څخه خالي دي حال دا چي په قرآن کريم کي ځای پر ځای د عمل سبق ښودل سوی دئ او تاسو يې هم لولي. يو عبادت کوونکی چي ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه عبادت کوي د ورځې روژه نيسي او ټول وخت د الله، الله ذکر کوي دغه سړی هيڅ د هغه چا سره نه سي برابرېدلای چې هغه د اصلاح او هدايت لپاره بې ارامه وي. قرآن کريم ځای پر ځای د جهاد في سبيل الله تاکيد فرمايلی دئ او د مجاهد فضيلت يې بيان کړی دئ:

لَّا يَسْتَوِى ٱلْقَـٰعِدُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُو۟لِى ٱلضَّرَرِ وَٱلْمُجَـٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَـٰهِدِينَ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى ٱلْقَـٰعِدِينَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَـٰهِدِينَ عَلَى ٱلْقَـٰعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجَـٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٩٦﴾ [15]

ژباړه: هغه کسان چې بېله عذره کور ناست دي د عذر پرته (جهاد نه کوي) د هغه کسانو سره برابر نه دي چې په مال او ځان سره جهاد کوي. کوم کسان چې په مال او ځان سره جهاد کوي د هغه کسانو په پرتله يې فضيلت زيات دئ، چې کور ناست دي. د ټولو سره الله ﷻ د نيکۍ وعده کړېده. الله ﷻ د مجاهدينو ته پر ناستو خلګو باندي فضيلت په لوی اجر سره ورکړی دئ يعني لويي درجې د الله ﷻ د لوري څخه مغفرت او رحمت ورکړل سوی دئ الله ﷻ زيات بخښونکی او زيات مهربانه دئ.

که څه هم د جهاد مقصد د کفارو او مشرکينو و مخ ته ټينګ درېدل دي او د اسلام لوړوالی دئ خو له بده مرغه موږ د دې لوړ او خوندور نعمت څخه بې برخې سوي يو، نو تر خپله وسه خو راته په کار ده چې د اسلام لپاره په هر ډول چې کېږي کوښښ او زيار وباسو آخر به زموږ دا لړلړ هڅې موږ مخ ته ورسوي.

والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا!

ژباړه: کوم خلګ چې زموږ د دين په لاره کي کوښښ کوي موږ د هغوی لپاره خپلې لاري پرانيزو.

په دې کي هيڅ شک نسته چې الله ﷻ د خپل دين د ساتلو او حفاظت لپاره وعده کړېده خو زموږ لپاره د دې دين د ودې او ترقۍ لپاره هڅې لازمي دي، اصحابو کرامو چې د دين لپاره څومره کوښښونه وکړه عملي ګټې يې وليدې او د غيبي مرستو څخه برخمن سوه چې موږ يې نومونه تر اوسه پوري اخلو او مثال پرې وايو.

که چيري موږ د دوی پر لاره باندي ولاړ سو او د کلمې طيبې د لوړوالي او ترقۍ لپاره ملا وتړو نو يقيناً به زموږ د غيبو څخه مرسته وسي او سرلوړي به سو، ځکه الله ﷻ فرمايي:

---

(15) سورة النساء الايتان (٩٥ ، ٩٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ۝٧ (١٦)

ژباړه: که تاسو د الله ﷻ مرسته وکړئ الله ﷻ به ستاسو مرسته وکړي او ستاسو قومونه به ټينګ کړي (د شيطان او کافرانو په مقابل کي).

څلورمه وجه دا ده چي موږ فکر کوو چي موږ د دې لوړي مرتبې اهل نه یو چي دا کار وکړو. نو څرنګه چي موږ د دې کار اهل نه یو نو بیا په کومه خوله موږ دا کار شروع کړو داسي نه ده، ځکه چي موږ ته الله ﷻ امر کړی دئ، موږ ته د پاته والي هیڅ لاره نسته موږ ته يوازي د الله ﷻ په امر سره کار شروع کول په کار دي دا به انشاء الله زموږ د استقامت او توانايۍ سبب سي په دغه ډول به تل اوسو، يوه ورځ به الله ﷻ سعادت را نصيب کړي او دا هیڅ کله نه سي کېدلای چي موږ دي د الله ﷻ په لاره کي کوښښ کوو او رحمان او رحیم ذات دي موږ ته نظر نه کوي ځکه په حديث کي راځي:

عن انس رضي الله عنه قال قلنا یا رسول الله! لا نامر بالمعروف حتی نعمل به کله ولا ننهی عن المنکر حتی نجتنبه کله فقال ﷺ: بل مروا بالمعروف وان لم تعملوا به کله وانهوا عن المنکر وان لم تجتنبوه کله (١٧).

ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي موږ رسول الله ﷺ ته وويل: يارسول الله! موږ په نېکو امر نه کوو تر څو چي موږ خپله په ټولو عمل نه وي کړی او نه د بدو څخه منعه نه کوو تر څو چي موږ د ټولو بدو څخه نه یو منعه سوي، رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو په نېکو امر کوئ که څه هم تاسو په ټولو عمل نه وي کړئ د بدو څخه منعه کوئ که څه هم د ټولو څخه تاسو ځان نه وي ساتلی.

پنځمه وجه دا ده، چي موږ داسي فکر کوو چي ځای پر ځای مدرسې سته، عالمان نصيحتونه کوي، خانقاوي ابادي دي، کتابونه او رسالې چاپېږي دا ټول د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ځانګي دي په دغه کارو سره فرض غاړي خلاصېږي.

په دې کي هیڅ شک نسته چي دغه ټولي اداري لازمي دي او توجه ورته کول د ضروري کارو څخه ده ځکه لږه او ډېره رڼا چي سته هغه هم د دغه ادارو برکت دئ، خو بیا هم زموږ لپاره يوازي دغه اداري کافي نه دي او که موږ بس والی په وکړو دا به زموږ ښکاره غلطي وي ځکه دغه اداري هغه وخت بس وي چي زموږ د دين سره مينه وای او زموږ په زړو کي د دين شوق او درنښت وای. د نن څخه پنځوس کاله مخکي زموږ په زړو کي د دين شوق موجود و په هغه وخت کي زموږ لپاره دغه اداري بس وې اوس پردیو قومونو د ډېرو کوښښونو په نتيجه کي زموږ څخه د دين جذبه وړې ده د دين سره د میني پر ځای موږ د

(١٦) سورة محمد الاية (٧).
(١٧) رواه الطبراني في الصغير الاوسط.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهب څخه تښتو په داسي صورت کي موږ ته يو بل تحريک په کار دئ، چي د هغه په نتيجه کي موږ د عوامو خلګو د دين سره مينه پيدا کړو او مړه جذبات يې بېرته راژوندي کړو که داسي وسي نو موږ د پورتنيو ادارو څخه پوره ګټه اخستلای سو او که داسي نه وي نو د دې پر ځاي چي موږ به ګټه ځني وانه خلو د هغه ادارو پاتېدل هم ګران دي.

شپږمه وجه دا ده چي کله موږ دا کار شروع کړو نورو ته ورځو هغوی زموږ سره په بده طريقه ويني، په سختۍ سره جواب راکوي، زموږ سپکاوی کوي او موږ بې عزته کوي نو موږ ته دا معلومول په کار دي، چي دا کار د انبياوو دئ په داسي تکليفونو او زحمتونو کي ښکېلېدل د دغه کار خصوصيت دئ انبياوو په دغه کار کي تر دې ډېر تکليفونه زغملي دي ځکه الله ﷻ فرمايي:

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي شِيَعِ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝ (١٨)

ژباړه: موږ په لومړنيو ډلو کي تر تا وړاندي رسولان لېږلي دي او موږ هيڅ رسول نه دئ لېږلي مګر دوی به پسخند په واهه.

رسول عليه السلام فرمايي د دعوت په لاره کي چي پر ما باندي څومره تکليفونه او زحمتونه راغلي دي بل پر هيڅ پيغمبر نه دي راغلي. څرنګه چي زموږ سردار او آقا په دې لاره کي دومره غمونه او تکليفونه زغملي موږ هم د ده تابعدار يو د ده کار راسپارل سوی دئ موږ ته هم په کار ده چي هر څومره تکليفونه وزغمو.

د پورتنيو بيانونو څخه څرګندېږي چي زموږ اصل مرض دا دئ چي په موږ کي ايماني جذبې له منځه تللي دي او اصلي مرض مو د ايمان کمزوري ده، کله چي اصلي شی له منځه ولاړ سي نو ورسره ټول صفتونه تړلي دي هغه هم له منځه ځي زموږ د ضعف او کمزورۍ اصلي لامل دا دئ چي اصلي شی مو پرې ايښي دئ هغه امر بالمعروف او نهي عن المنكر دئ. ښکاره خبره ده چي هيڅ قوم تر هغه ترقي نه سي کولای تر څو چي خلګ يې په ښو خويونو او کمالاتو ښايسته نه سي زموږ يوازنی علاج دا دئ چي موږ د تبليغ فريضه پوره کړو، ټينګ ودرېږو تر څو زموږ ايمان قوي سي او مړې جذبې مو بيرته راييداره سي موږ الله ﷻ او رسول ﷺ وپېژنو او احکامو ته يې سر کښېته کړو د دغه کار لپاره موږ ته هغه طريقه په کار ده کومه چي سيدالانبياء حضرت محمد ﷺ د مشرکينو د اصلاح لپاره کارول. ځکه الله ﷻ فرمايي:

لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ (١٩)

(١٨) سورة الحجر الايتان (١٠ - ١١).

(١٩) سورة الاحزاب الاية (٢١).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: بې شکه ستاسو لپاره په رسول الله ﷺ کي (د تابعدارۍ) ښېه نمونه ده.

همدغه خبري ته امام مالک رحمه الله اشاره کړېده: لن يصلح آخر هذه الامة الاما اصلح اولها!

ترجمه: هيڅکله به د دې امت وروستي خلګ اصلاح نه سي تر څو چي هغه طريقه يې نه وي مختاره کړې کومه چي په لومړيو کي اصلاح سوې ده.

کوم وخت چي رسول الله ﷺ د حق دعوت لپاره ودرېدی هيڅوک يې ملګری نه وو او نه يې فکر کېدی يوازي و دنياوي هيڅ طاقت نه و ورسره، په قوم کي يې ضد او سرکښي نهايي نقطې ته رسېدلې وه، په دوی کي هيڅوک د حق خبري اورېدلو ته تيار نه وو په ځانګړي ډول د کلمې طيبې څخه د رسول الله ﷺ قوم کرکه کوله او ځني بېزاره وه، په دغه وخت کي کوم طاقت و، چي يو مفلس، بې ياره او ناداره انسان خپل ټول قوم د حق و لوري ته راوبولي؟ اوس تاسو فکر وکړئ چي هغه کوم شی و، چي مخلوق يې د رسول الله ﷺ و لوري ته راوبولی او هغه شی چي چا تر لاسه کړی د تل لپاره د رسول الله ﷺ سو. ټولي دنيا ته معلومه ده چي د رسول الله ﷺ يو هدف و، پر هغه يې نظر و او هغه يې مقصد و، (چي په لاندي آيات کي ياد سوی دئ):

أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ [۲۰]

ژباړه: د الله ﷻ پرته به د بل چا عبادت نه کوو او نه به د الله ﷻ سره په هيڅ شي سره شريک نيسو او نه به موږ د ځينو لپاره څوک په خدايۍ سره نيسو د الله ﷻ پرته. (چي الله ﷻ پرېږدو).

د يو الله د اطاعت او عبادت پرته يې خلګ د نورو شيانو د عبادت څخه منعه کړه، د دښمنانو ټول بندونه او علاقې يې ماتي کړې او يو الهي قانون يې وټاکی او وې ښودل چي د دې قانون څخه مه ليري کېږئ بل لوري ته مخ مه اړوئ.

ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ [۲۱]

ژباړه: د هغه شي تابعداري کوئ چي تاسو ته د الله ﷻ د لوري څخه راغلی دئ د الله ﷻ پرته د بل چا تابعداري مه کوئ.

پورتنۍ خبره اصلي تعليم و او رسول الله ﷺ ته يې امر سوی و.

ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِ وَجَٰدِلْهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ

ژباړه: اې محمده! د الله ﷻ و لاري ته خلګ رابوله په حکمت او نېک نصيحت سره د خلګو سره په هغه طريقه بحث کوه

(۲۰) سورة ال عمران الاية (٦٤).

(۲۱) سورة اعراف الاية (٣).

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿١٢٥﴾[22] | چي بهتره وي بېشکه ستا رب په هغه کسانو پوه دئ چي ګمراه سوي دي او په هغو کسانو عالم دئ چي پر هدايت دي. |

دغه د هدايت هغه لويه لاره ده، چي د نبي ﷺ او د ده د هر تابعدار لپاره تګ کل سوېده.

| | |
|---|---|
| قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ أَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِى ۖ وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٨﴾[23] | ژباړه : ووايه ! دا زما لاره ده زه رابولم په يقين سره زه او هغه څوک چي زما تابعدار دي الله ﷻ پاک دئ او زه د مشرکانو څخه نه يم. |
| وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَقَالَ إِنَّنِى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾[24] | ژباړه : تر هغه چا به نو د چا خبره ښه وي چي د الله ﷻ و لوري ته بلنه کوي او وايي زه د مسلمانانو څخه يم. |

د الله ﷻ و لوري ته د هغه خلګو رابلل چي حقه لاره ځني ورکه وي، ګمراهانو ته هدايت ښودل د نبي ﷺ د ژوند وظيفه ده او د ده مبارک اصلي مقصد و د ودي او ترقۍ لپاره يې په سلګونو او زرګونو انبياء او رسولان راغلي دي.

| | |
|---|---|
| وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾[25] | ژباړه: موږ ستا مخکي هيڅ رسول نه دئ لېږلی مګر دا وحي مو ورته کړې دي چي زما پرته بل معبود نسته او زما عبادت کوئ. |

د رسول الله ﷺ او ټولو انبياوو په ژوند او د ژوند پر هره لحظه کي يې که سړی نظر واچوي نو معلومېږي چي د دوی ټولو مقصد يو و، چي هغه د يوه الله ﷻ پر ذات او صفتونو باندي پوره يقين ساتل و. هم دا د اسلام مفهوم دئ او انسان هم د دې لپاره پيدا سوی دئ، ځکه الله ﷻ فرمايي:

وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾[26]

---

[22] سورة النحل الاية (١٢٥).
[23] سورة يوسف الاية (١٠٨).
[24] سورة حمٓ السجدة الاية (٣٣).
[25] سورة الانبياء الاية (٢٥).
[26] سورة الذاريات الاية (٥٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: موږ پېریانان او انسانان یوازې د دې لپاره پیدا کړي دي چې عبادت وکړي او س نو چې اصلي مقصد معلوم سو، ناروغي او علاج یې معلوم سو نو د علاج په طریقه اختیارولو کي زیات مشکلات نه پېښېږي او که په لاندي ډول طریقه که د علاج لپاره غوره سي انشاء الله ګټوره به وي.

زموږ د ناپوهۍ مطابق د مسلمانانو د کامیابۍ او ترقۍ لپاره یو نظام غوره سوی دئ، چي هغه ته په حقیقت کي اسلامي ژوند یا د پخوانیو مشرانو د ژوند نمونه ویل کېږي. چي لنډه نقشه یې ستاسو په خدمت کي وړاندي کوم: تر ټولو ضروري خبره دا ده چي هر مسلمان باید د دنیا د ټولو مقصدونو څخه نظر واړوي او یوازې د کلمې طیبې د لوړوالي لپاره او د الهي احکامو د رواج د ترقۍ لپاره خپل مقصد جوړ کړي او د دې خبري لپاره ټینګه وعده وکړي چي د الله ﷻ هر امر به منم او د عمل کولو کوښښ به یې کوم او د الله ﷻ څخه به هیڅکله نافرماني نه کوم او د پورتني مقصد لپاره په لاندي قاعدو سره عمل کوم:

۱ – کلمه : د لا اله الا الله محمد رسول الله په صحیحو الفاظو ویل، په معنی او مطلب یې ځان پوهول، په ذهن کي یې د کښېنولو کوښښ کول او خپل ټوله ژوند د دې کلمې سره برابر جوړول.

۲ – د لمانځه پابندي کول، د شرائطو او ادابو لحاظ یې کول، په خشوع او خضوع سره یې اداء کول او په هر رکن کي یې د الله ﷻ د لوی والي او عظمت فکر کول او د خپلي بېوسۍ او بندګۍ فکر کول، لنډه دا چي لمونځ دي په داسي ډول وکړي چي د الله ﷻ په دربار کي د وړاندي کېدو وړ وي او د دغسي لمانځه د توفیق غوښتنه دي وکړي. که یې نه وي زده زده دي کړي او په لمانځه کي د ټولو شیانو ویل دي یاد کړي.

۳ – د قرآن کریم سره اړیکي او مینه کول او محبت ورسره پیدا کول چي په دوو طریقو سره کیدای سي:

الف : د ورځي په ټاکلي وخت کي د قرآن کریم تلاوت په داسي ډول کول، چي په معنی کي یې فکر کوي که یې په معنی نه پوهېږي نو دغسي دي یې تلاوت کړي او دا فکر دي کوي چي زما کامیابي او ګټه په قرآن کریم کي پرته ده. یوازې الفاظ ویل هم لویه نېکمرغي ده د خیر او برکت لوی سبب دئ. که قرآن کریم نه سي لوستلای نو لږ وخت دي د قرآن په زده کړه کي مصرفوي.

ب : د خپلو اولادو، د کلي د هلکانو او نجنو د قرآني د تعلیم فکر کول او تر ټولو کارو یې وړاندي فکر کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ – څه وخت د الله ﷻ په ياد او ذکر کي تېرول او د طريقې لپاره يې د طريقت يو پير پيدا کول البته چي د سنتو تابعدار وي او دهغه څخه پوښتنه کول که نه نو دريمه کلمه لوستل :

سبحن الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبر ولاحول ولاقوة الا بالله العلي العظيم!

پورتنۍ کلمه او درود شريف سهار او ماښام سل ځله لوستل په داسي ډول چي د زړه په پوره ارامتيا سره وي ځکه په حديثو کي يې زيات فضيلتونه راغلي دي.

۵ – هر مسلمان خپل ورور ګڼل او همکاري او غمخواري ورسره کول. د اسلامي ځانګړتياوو په موخه د هغه احترام او درنښت کول، د داسي خبرو څخه ځان ژغورل چي د مسلمان ورور د تکليف او درد سبب ګرځي. د پورتنيو خبرو دي خپله هم پابندي کوي او د نورو مسلمانانو د هڅولو کوښښ دي هم کوي دا نو داسي کېږي چي په ورځنۍ ژوند کي څه وخت د اسلام د خدمت او خپرولو لپاره بېل کړي، او هم د دې لپاره پوره تياري وکړي. د کوم دين د خپرولو لپاره چي رسول الله ﷺ، انبياوو ډول – ډول تکليفونه برداشت کړل، اصحابو کرامو او زموږ مشرانو خپل عمرونه پکښې ولګول او د دغه دين لپاره يې خپل ځانونه قربان کړل نو د دغه دين د خپرولو او پاته ساتلو لپاره لږ وخت هم نه لګول لويه بدبختي ده دا هم هغه ضروري فريضه ده چي د پرېښودو له امله يې موږ نن برباد او تباه سوي يو.

لومړی د مسلمان کېدو څخه مطلب دا ګڼل کېدی چي د خپل ځان او مال د عزت، اسلام خپرول او د کلمې د لوړوالي لپاره وخت ولګوي که به چا داسي نه کول ناپوه ګڼل کېده خو افسوس چي نن موږ ته مسلمانان ويل کېږي خو د دين پر خپرولو خپلي سترګي پټې ساتو بيا هم د دين د خپرولو لپاره هيڅ کوښښ نه کوو. لنډه دا چي د ژوند څخه مقصد د کلمې لوړوالی او د دين خپرول بلل کېږي. دا هم هغه کار دئ چي زموږ د دنيا او آخرت کاميابي ورسره تړلې ده دا هم هغه کار دئ چي له امله يې نن موږ خوار او ذليل يو. اوس بيا موږ ته د خپل اصلي مقصد راپورته کول په کار دي او د ژوند اصلي مشغله جوړول په کار دي چي بيا رحمت الهي پر جوش راسي او زموږ د دنيا او آخرت کاميابي بيرته رانصيب سي. د دغه کار د کولو څخه هيڅ کله دا مقصد نه دئ چي نور کارونه پرېږدئ يوازي دغه کار پر مخ بيايا ست بلکي مقصد دا دئ چي لکه څرنګه چي د دنيا کارونه پر مخ بيايې دغه کار هم ضروري وبوله او وخت ورته بېل کړه او د دنيا کارو ته هم وخت بېل کړه يا په بل عبارت چي څو کسان د دې کار لپاره تيار سي په هفته کي څو ساعتونه پخپله محله (کلي) کي په مياشت کي درې ورځي نژدې همسايګانو ته او په کال کي څلويښت ورځي په ليري ځايونو کي دا کار وکړئ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوښښ وکړئ چي هر شتمن، نادار، زمیندار، ملازم، عالم او بې علمه په دې کار کي شریک کړئ او د دغه کار پابنده یې جوړ کړئ.

# د کار کولو طریقه

لږ تر لږه دي لس کسان د تبلیغ کولو لپاره ووزي، لومړی دي یو آمر وټاکي بیا دي سره یو ځای سي د اوداسه وروسته دي دوه رکعته نفل وکړي (په دې شرط چي مکروه وخت نه وي) بیا دي و الله ﷻ ته زاری وکړي د کامیابۍ او الهي توفیق غوښتنه دي وکړي د خپلي ثابت قدمۍ دعا دي وکړي بیا به په کراره – کراره د الله ﷻ د ذکر په کولو سره روان سي بې ځایه خبري دي نه کوي کله چي و ټاکلي ځای ته ورسېږي ټوله دي سره راجمع سي دعا دي وکړي بیا به په ټول کلي ګښت وکړي لومړی به لمونځ په وکړي بیا به د دغه کار د کولو لپاره وعده ځني واخلي او دغه کار ته دي یې تیار کړي، بیا به دغه خلګ د ځان سره بوزي ګښت دي وکړي په ښځو دي هم لمونځ وکړي د پابندۍ وعده دي ځني واخلي. کوم خلګ چي دې کار ته تیار سوه نو د هغوی څخه دي هم یو جماعت جوړ کړي او یو امیر دي ورته مقرر کړي پخپله نګراني کي دي یې واخلي او د هغوی د کار کولو فکر دي کوي. هر تبلیغ کوونکي ته په کار ده چي د خپل امیر خبره به مني او هر امیر ته په کار ده چي د خپلو ملګرو په خدمت کولو، استراحت کولو، همت زیاتولو او مرسته کولو کي دي کمی نه کوي او د کومي خبري چي مشورې ته اړتیا لري د ټولو ملګرو څخه دي مشوره اخلي او عمل دي په کوي.

# د تبلیغ اداب

دغه کار د الله ﷻ یو لوی عبادت دئ او لویه نېکمرغي ده د انبیاوو پر لاره تګ دئ، کار چي څومره لوی وي په هغه اندازه اداب غواړي. د دې کار څخه مقصد د نورو هدایت نه دئ بلکي د خپل ځان اصلاح او د بندګۍ څرنګوالی دئ او د الله ﷻ د حکمونو پر ځای کول دي. د الله ﷻ رضا لټول دي، نو په کار ده چي لاندي ټکي په ښه ډول په ذهن کي کښېنوي او پابندي یې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – خپل ټول خرڅ يعني خوړل، څښل او کرايه دې پر خپله غاړه واخلي که مو توان و د بل ناداره ملګري مصرف هم پر غاړه واخلئ.

۲ – د خپل ملګري او د دې پاک کار کوونکو خدمت خپل وياړ وګڼئ، د ملګرو درنښت او احترام وکړئ.

۳ – د عامو مسلمانانو سره په عاجزۍ او کمينۍ سره معامله کوئ، نرمه لهجه او د خوشحالۍ کړه وړه ورسره اختيار کړئ، هيڅ مسلمان ته د سپکاوي او نفرت په سترګه مه ګورئ، په ځانګړي ډول د علماوو زيات عزت کوئ. لکه څرنګه چي پر موږ باندي د قرآن او حديث عزت او عزمت واجب او ضروري دئ، همدا ډول د علماوو عزت او درنښت هم پر موږ باندي ضروري او واجب دئ، ځکه الله ﷻ دوی په لوی نعمت سره سرلوړي کړي دي. د علماوو سپکوالی د دين د سپکوالی سره برابر دئ او د دين سپکوالی د الله ﷻ د قهر او غضب سبب ګرځي.

۴ – فارغه وخت د غيبت، بهتان، دروا غو او د لوبو د تماشو پر ځای د دين د کتابو په مطالعه او د نېکو خلګو سره په ناسته تېر کړئ په دغه کار سره به د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ خبري درته معلومي سي په ځانګړي ډول د تبليغ په ورځو کي د بې ځايه خبرو څخه بېخي پرهېز وکړئ. خپل فارغه وخت د الله ﷻ په ياد، ذکر، فکر، استغفار او درود په ويلو او زده کولو کي تيروئ.

۵ – په حلاله طريقه سره رزق حاصلوئ، کم خرڅ کوئ او د خپلو بچيانو او د نورو شرعي حقوق ادا کوئ.

٦ – په اختلافي مسئله او فروعي مسائلو کي څېړنه مه کوئ بلکي يوازي د توحيد لوري ته دعوت کوئ او د اسلام د ارکانو تبليغ کوئ.

۷ – خپل ټول کارونه او ويناوي په اخلاص او صفوف سره ښايسته کړئ په اخلاص سره لږ عمل د ډېري فائدې او برکت سبب جوړېږي د اخلاصه پرته په کار کي نه د دنيا ګټه سته او نه په آخرت کي کوم ثواب ورته سته. حضرت معاذ ﵁ چي کله رسول الله ﷺ د يمن حاکم وټاکی د لېږلو په وخت کي يې د رسول الله ﷺ څخه غوښتنه وکړه، چي ما ته نصيحت وکړه. رسول ﷺ په جواب کي ورته وويل، چي:

په کارو کي اخلاص او اهتمام کوه، د اخلاص سره مل لږ کار هم کفايت کوي. په بل حديث کي راغلي دي چي الله ﷻ يوازي هغه عملونه قبلوي چي د الله ﷻ لپاره يوازي سوي وي. په بل ځای کي راځي چي الله ﷻ ستاسو شکلو ته نه ګوري بلکي ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري. نو تر ټولو مهمه خبره دا ده چي په کار کي بايد اخلاص وي د ځان ښودني او ريا ته هيڅ ځای نه وي پکښې، څومره چي په کار کي اخلاص وي په هغه اندازه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کار کي ترقي او تازګي وي. د کار کولو تګلاره په لنډ ډول ستاسو و حضور ته وړاندي سوه، پر اړتيا يې هم کافي رڼا واچول سوه خو خبره دا ده چي دغه تګ لاره به زموږ د دې پرېشانۍ او بې ارامۍ په حال کي څومره رهبري وکړي او تر کومه ځايه پوري به زموږ مشکلات را حل کړي د دغې خبري لپاره و قرآن کريم ته بيا رجوع کوو، قران کريم زموږ دغه کوښښ يو ګټور تجارت بللی دئ او داسي پکښې فرمايل سوي دي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ تِجَـٰرَةٖ تُنجِيكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ۝١٠ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَـٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ۝١١ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡ وَيُدۡخِلۡكُمۡ جَنَّـٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَـٰرُ وَمَسَـٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّـٰتِ عَدۡنٖۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ۝١٢ وَأُخۡرَىٰ تُحِبُّونَهَاۖ نَصۡرٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتۡحٞ قَرِيبٞۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝١٣ [(٢٧)]

ژباړه: اي ايمان والو! ايا زه تاسو ته داسي تجارت وښيم چي تاسو د دردوونکي عذاب څخه ژغوري؟ تاسو پر الله ﷻ او پر رسول ﷺ باندي ايمان راوړئ د الله ﷻ په لاره کي په مال او ځان سره جهاد وکړئ دا ستاسو لپاره ډېره بهتره ده که تاسو پوهېږئ، الله ﷻ به ستاسو ګناهونه معاف کړي او تاسو به داسي جنتونو ته داخل کړي چي د درختو تر ښاخو لاندي به يې ولې بهېږي. ښه ځايونه چي د اوسېدو په باغو کي به وي دا لويه کاميابي ده يوه بله خبره هم سته چي تاسو يې خوښوئ د الله ﷻ د لوري څخه مرسته او ژر بريالیتوب دئ زېري تاسو مؤمنانو ته درکړل سوی دئ.

په پورتني آيات کي د تجارت بيان سوی دئ، چي لومړی ګټه يې دا ده چي د دردوونکي عذاب څخه خلاصون دئ، دغه تجارت دا دئ چي موږ به پر الله ﷻ او رسول ﷺ باندي ايمان راوړو او د الله ﷻ په لار کي به په مال او ځان سره جهاد کوو دا هغه کار دئ چي زموږ لپاره سراسر ګټه ده که په موږ کي لږ پوهه او عقل موجود وي په دغه اسانه کار به موږ ته دومره لويې ګټې راکړل سي چي ټول ګناهونه به مو معاف سي او په آخرت کي به په لويو نعمتونو سره سرلوړي سو، همدغه لويه کاميابي ده خو په دغه کاميابۍ باندي بس والی نه دئ راغلی بله لا دا ده چي په دنيا کي هم موږ ته خوشالي پر دښمنانو بريالیتوب او حکومت راکړل کېږي. الله ﷻ موږ ته د دوو شيانو امر وکړ، لومړی دا چي موږ به پر الله ﷻ او رسول ﷺ باندي ايمان راوړو، دوهم دا چي د الله ﷻ په لاره کي به په مال او ځان سره

---

[(٢٧)] سورة الصف الايات (١٠- ١١ - ١٢ - ١٣).

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد کوو. د دغو دوو شيانو په بدله کي الله ﷻ موږ ته د دوو شيانو وعده راکړه يو په آخرت کي تل جنت، ارام او استراحت. دوهم په دنيا کي بريالیتوب او کامیابي. لومړی کار چي زموږ څخه غوښتل سوی دئ ايمان دئ ښکاره خبره ده چي د دغي غوښتني څخه مطلب دا دئ چي موږ ته د حقيقي ايمان دولت رانصیب سي. دوهمه غوښتنه زموږ څخه دا ده چي جهاد وکړو که څه هم جهاد دا دئ چي موږ د کافرانو سره وجنګېږو خو اصلي مطلب يې د کلمې طيبې لوړوالی او د اسلامي احکامو جاري کېدل دي، همدغه لوی مقصد د جهاد دئ او زموږ د تحريک همدغه مقصد دئ. اوس معلومه سوه، چي لکه څرنګه چي د اخرت د ژوند ښه والی او د عذاب څخه خلاصون پر الله ﷻ او رسول ﷺ باندي په ايمان راوړلو او د الله ﷻ په لاره کي په کوښښ کولو پوري تړلی دئ همدا ډول د دنيا د ژوند ښه والی هم په دغه دوو شيانو پوري وتړل سو. کله چي موږ پر الله ﷻ او رسول ﷺ باندي ايمان راوړو او د الله ﷻ په لاره کي کوښښ وکړو تر څو اسلامي احکام جاري کړو نو ښکاره خبره ده، چي د مځکي پاچهي به زموږ وي او د حکومت او خلافت وړ به موږ يو او زموږ به وي ځکه الله ﷻ فرمايي:

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ (۲۸)

ژباړه : په تاسو کي چي کومو خلکو ايمان راوړی وي، نېک عملونه کوي الله ﷻ وعده ورکوي چي د مځکي خلافت به ورکوي لکه څرنګه چي مخکي ستاسو يې و خلکو ته ورکړی و. کوم دين چي يې د دوی لپاره خوښ کړی دئ هغه دوی ته قوت ورکوي وروسته به د دوی وېره په امن کړو، په دې شرط چي زما عبادت وکړي او زما سره هيڅ شريک ونه نيسي.

په پورتني آيات کي د ټول امت سره د حکومت او خلافت وعده سوې ده دغه وعده ټولو وليدل د نبي ﷺ د زماني څخه د خلفاء راشدينو تر زمانې پوري دغه وعده ښکاره سوه لکه چي جزيرة العرب د رسول ﷺ په زمانه کي او نور ملکونه د خلفاء راشده وو په زمانه کي فتح سول. بيا وروسته که څه هم يووالی نه و، څه وخت پر وخت د نېکو پاچهانو سره دغه وعدې پوره کېدل ښکاره سوه، ځکه الله ﷻ فرمايي:

(۲۸) سورة النور الاية (۵۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان حزب الله هم الغالبون . ونحوه (۲۹)

اوس نو معلومه سوه چي په دنيا کي ارام، سکون، عزت او آبرو کي د ژوند تېرولو لپاره يوازي لاره دا ده چي موږ په کامل دين کي داخل سو، عمل په وکړو او تر نورو پوري يې د رسولو لپاره په ټينګه ملا وتړو، بلکي خپل ټول ژوند د دغه کار لپاره وقف کړو. الله ﷻ فرمايي:

وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ (۳۰) | ژباړه : تاسو ټوله دين ټينګ ونيسئ او ټوټې ټوټې مه جوړېږئ

دا په لنډ ډول د عمل لپاره يو نظام دئ چي په حقيقت کي د اسلامي ژوند او مشرانو د ژوند يوه نمونه ده.دملک ميوات په سيمه کي د يو وخته څخه دغه کاروان دی او د دې نيمګړي کوښښ نتيجه دا ده چي ورځ په ورځ خلګ اخته دي په کار کي ترقي کوي. د دغه کار ګټې او فايدې خلګو وليدې تر کومه ځايه چي د ليدلو سره اړه لري. که ټول مسلمانان په اتفاق سره دا کار شروع کړي نو د الله ﷻ څخه هيله لرم چي د دوی ټول مصيبتونه او مشکلات به ليري سي په دنيا کي به په ښه ارامۍ، اطمينان او عزت سره ژوند وکړي او د لاسه ورکړی شان او شوکت به بيرته لاسته راوړي. ځکه الله ﷻ فرمايي:

وَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ (۳۱)

هر څومره چي ما د خپل مقصد د پوهولو لپاره کوښښ وکړ، خو دا د يو څو تجويزونو مجموعه نه ده. بلکي دا يو عملي مسوده (خاکه ده) چي د الله ﷻ يو خوښ بنده سيدي و مولائي مخدومي و مخدوم العالم مولانا محمد الياس رحمه الله واخيسته او د دې پاک کار لپاره يې خپل ټول ژوند وقف کړ. په همدې وجه تاسو په دې بې ربطه کرښو لوستلو او پوهېدلو بس والی هيڅکله مه کوئ، بلکي دا کار زده کړئ او د دې کار عملي نمونه وګورئ د هغه څخه سبق واخلي او په دغه قانچه کي دي د ځان اچولو کوشش وکړئ هم دې لوري ته متوجه کول زما مقصود دئ . نور بس:

*ميري قسمت سی الہی پائين يہ رنگ قبول ۞ پہول کچہ مين نی چونی ہين ان کی دامن کيلئی*

ژباړه: الهي! زما قسمت ته د قبوليت رنګ ورکړې د لمني لپاره مي يو څه ګلان ټول کړل.

---

(۲۹) بيان القران.

(۳۰) سورة ال عمران الاية (۱۰۳).

(۳۱) سورة المنافقون الاية (۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



و آخر دعوانا ان الحمد الله رب العالمين والصلوة والسلام علي رسوله محمد وآله واصحابه اجمعين برحمتک يا ارحم الراحمين .

مرتب : مولانا محمد احتشام الحسن ۱۸ ربيع الثاني ۱۳۵۸ = ۷ جولاي ۱۹۳۹م، چهارشنبه
ژباړونکی : مولوي عبدالهادي حماد مقيم جامعه اسلاميه اشرفيه
۲۱ / ۱۰ / ۱۳۸٦ = ۱۱ جنوري د ۲۰۰۷ م، جمعه مبارکه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**